DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال پنجم شماره ۱۲۳
شماره مسلسل ۷۵۱
شنبه ۳۱ ثور ۱۳۸۴ هـ ش
۱۱ ربیع‌الثانی ۱۴۲۶ هـ ق
21 May, 2005

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

طالبان والقاعده مسوولین جدیدشانرا تعیین کردند

منابع موثق گفته اند که طالبان و القاعده در برخی ولایات افغانستان ؛ مسؤولین و رهبران جدیدی را تعیین نموده اند.به گفته آنها، این تعیینات روی این دلیل بمیان آمده است که طالبان و القاعده بالای رهبران خود مشکوک شده اند که مبادابا دولت تفاهم نمایند.

یک تن از مسؤولین طالبان که از اظهار نامش خودداری میکرد، طی یک تماس تیلفونی به آژانس خبری پژواک گفته است که در ولایات جنوب شرق (پکتیا، پکتیکا و خوست) سراج الدین حقانی فرزند مولوی جلال الدین حقانی بحیث رهبر و یک شخص دیگری بنام معلم محمدزمان بحیث معاون وی تعیین گردیده است.موصوف اضافه نمود که مولوی سیف الرحمان منصور قوماندان مشهور طالبان زنده بوده و مانند سابق مصروف مبارزه علیه قوای امریکایی در مناطق مربوطه پکتیا و لوگر میباشد. ص۴

امریکایي ځواکونه دوژل شوي
۸۵ کلن بوډا دکور دروازې جوړوي

دخوست ولایت چارواکو ومنله چې په دې ولایت کې یو۸۵ کلن بوډا دغويي په ۲۷ مه شپه امریکایي ځواکونو په ډزو وژلی دی. خودوی پرې ډېر خفه دي او امریکایي ځواکونوهم په دې اړه دوژل شوي بوډا له کورنۍ څخه ببنه غوښتې ده ۴مخ

(جبهه ملی دموکرات افغانستان)
با هماهنگی ۱۳ حزب سیاسی به میدان آمد

سیزده حزب سیاسی راجستر شده در وزارت عدلیه روز ۲۸ ثور ، طی کنفرانسی(جبهه ملی دموکرات افغانستان) را به منظور فعالیتهای مشترک سیاسی ایجاد نمودند.

میا گل وثیق رهبر حزب رفاه مردم افغانستان و سخنگوی این جبهه حین اعلان موجودیت جبهه مذکور ،در مورد کاندید شدن افراد از احزابی که شامل این جبهه هستند ، گفت :((ما در این قسمت تقریباً به توافق رسیدیم که در پارلمان کاندید های را از جبهه ملی دموکرات افغانستان معرفی نمائیم و صحبت ها جریان دارد.)) ص۴

هلمندکي

یو پولیس او دیوې موسسې
څلور تنه کارکوونکي ووژل شول

د هلمند ولایت د ناد علي ولسوالی د بابا جي په سیمه کې د AIP د موسسې دري تنه انجنیران یو ډریور او یو سیمه ییز پولیس د غويي پر ۲۸ مه د ناپېژاندو وسله والو په برید کې ووژل شول ۴مخ

سرمقاله

آیا امریکا درپی کارخویش است؟

مسأله دوام همکاری نظامی وپایگاه نظامی امریکا وضعیت سیاسی کشور را به شدت تحت الشعاع قرار داده است.

مردم با توجه به اوضاعی که ازچهارسال به اینسو درکشور برقرار شده ، حالتی را می نگرند که درهمه زمینه ها آشفته تر، نا بسامان ترونا‌هنجارتر از گذشته به نظر می آید .

بپذیریم که اگر دوسه مورد از تصامیم وفیصله های اجلاس بن عملی شده ،اما ما دستاوردهای قابل توجهی نداریم.

وقتی اتحادشوروی ازهم پاشید، امریکا ماهی خالدارش را صید کرد وافغانستان را رها کرد ورفت، درنتیجه منافع استخباراتي وسیاسی پاکستان افغانستان را به میدان بزکشی حلقات تحت نفوذآن کشور بدل ساخت.

وقتی حکومت مجاهدین منافع مطمع نظررا تأمین نکرد، باردیگر استخبارات امریکا، پاکستان ،عربستان وانگلیس ، خمیر مایهء طالبیزم را آماده کردند.

طالبیزم و القاعده، تروریزم، مواد مخدر، وافراط گرایی را به وجود آوردند، وبن لادن آنرا با آمیختن منافع عربی، به سیستم ضد امریکایی تغییر قیافه بخشید.

وقتی سیستم بن لادنیزم به امریکا حمله کرد، امریکا برای حفظ منافع در صدد نابودی طالبیزم برآمد.

باسقوط طالبیزم، جلسهء بن تشکیل شد ودولت موقت به میان آمد.

امریکا برای حفظ منافع سیاسی وستراتیژی به افغانستان آمد، با این شعار که افراطیت، القاعده، تروریزم وموادمخدر را از بین ببردوامنیت را تأمین کند.

واقعیت اینست که نه تنها امریکا درین عرصه ها تاکنون توفیقی نیافته، بلکه با سیاستهای کج داروفریز وهمگامی با قوماندانان مخالف مردم ودولت ومنافع ملی افغانستان ، نتوانسته عوامل مخرب یادشده را درسرحدات جنوب وشرق از بین ببرد.

وچنان می نماید که تمام تلاشهای ائتلاف بین المللی به رهبری امریکا درجهت صرفاً منافع امریکا بوده وبس.

دروضعیت حاضرکه مردم ودولت افغانستان هیچ برگ برنده یی را بدست نیاورده وهم مردم وهم دولت به نحوی دردوراهی سختی درمیان چلنج های سیاسی قرار گرفته است .

لذا میخواهند بدانند که آیا امریکا درین بخشی از جهان مسوولیت دارد که به زایل ساختن اینهمه عوامل مخرب بپردازد، یا با نادیده گرفتن منافع ملی افغانستان درپی تطبیق برنامه های خویش است.

سرکونو او هوايي ډګر ته د نړیوال بانك مرسته

نړیوال بانك له افغانستان سره د ۸۵ میلیونو ډالرو د مرستې ژمنه کړې هغه اعلامیه چې تیره ورځ په واشنګټن کې د نړیوال بانك له خوا خپره شوی وایي چې ددغې مرستې څلویښت میلیونه ډالره به په افغانستان کې د لوړو زده کړو په پروژه ولګول شي او پاتې پنځه څلویښت میلیونه به په افغانستان کې د سرکونو او هوایي ډګر په رغونه کې ولګول شي د نړیوال بانك ویاند کیکو میاوا ویل چې لوړې زده کړې د افغانستان له بیړنیو او مهمو اړتیاوو څخه دي او دغه هیواد د اقتصاد په ټولو برخو کې حرفوي او با استعداد مشرتابه ته اړتیا لري د نړیوال بانك ویاند دا هم ویلي چې د تیرې شل کلنۍ جګړې له امله د افغانستان د سرکونو په سلو کې پنځوس په ناوړه حالت کې دي.

شیما رضایی به قتل رسید

شیما رضایی کارمند سابق تلویزیون طلوع با فیر گلوله ی بعد از ظهر ۲۸ ثور در منزلش واقع چار قلعه وزیرآباد کابل به قتل رسید.

به گفته یکی از دوستان وی ، شیما بعد از لت و کوب به قتل رسیده است وی افزود که آثار کبودی در چشمان او به خوبی به مشاهده میرسیدو همچنان زانو هایش خراشیده شده بود و با مرمی به سرش زده اندوی گفت : ((که مرمی از یک طرف پیشانی او خورده بود و از سوی دیگر برآمده است .)) ص۴

زندان های پاکستانی
بروی مهاجرین افغان باز است

یکتعداد از مهاجرین افغان در پاکستان بالای پولیس انتقاد نموده و ادعاء مینمایند که از سوی پولیس پاکستان بدون ارتکاب جرم به خاطر اخذ پول دستگیر گردیده و به زندان ها روانه میگردند.

به اساس احصائیه (UNHCR) یا کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان، در حال حاضر بیش از سه میلیون مهاجر افغان در پاکستان زنده گی مینمایند و مشغول کار های مختلف اند. ص۴

له حاجیانو سره دخیانت په تور
دوو تنو ته سزا واورول شوه

دترانسپورت وزارت دوه کارکوونکو ته دیوې ښکاره محکمې له خوا په کابل کې دیو نیم کال بند تېرولو او د څه باندې ۵۲ میلیونو افغانیو د بېرته ورکولو سزا واورول شوه او ددې وزارت اداري مرستیال او دحج او اوقافو وزارت یو کارکوونکي ته دحبس تېره موده په بند کې حسابه او خوشې شول ۴مخ

محکومیت چهارتن در ارتباط با قتل احمد شاه مسعود

AFP

محکمه ای در پاریس، پایتخت فرانسه، چهار نفر را در ارائه کمک تدارکاتی به قاتلان احمد شاه مسعود،قوماندان نیروی مقاومت افغان گناهکار شناخته است.

این چهار پیکارجوی اسلامگرا به دو تا هفت سال حبس محکوم شده اند.

یک مظنون پنجم نیز به خاطر اتهاماتی که به این دوسیه ارتباطی نداشت محکوم شناخته شد، اما دو مظنون دیگر تبرئه شدند.

احمد شاه مسعود که علیه رژیم طالبان می جنگید در ماه سپتامبر سال ۲۰۰۱، دو روز پیش از حملات ۱۱ سپتامبر به نیویارک و واشنگتن، در یک انفجار انتحاری توسط دو مرد تونسی که خود را خبرنگار جا زده بودند به قتل رسید.

محکوم شدگان که کلیه آنها افریقایی الاصل هستند، توسط پولیس فرانسه دستگیر شده بودند. ص۴

نامزدی یکی از رهبران طالبان در انتخابات پارلمانی

وزیر خارجه حکومت سرنگون شده طالبان گفته است که می خواهد در انتخابات پارلمانی کشور که قرار است در ماه سپتامبر برگزار شود شرکت کند.

وکیل احمد متوکل به اعضای کمیسیون انتخابات گفته است برای بدست آوردن کرسی پارلمان در ولایت کندهار به رقابت خواهد پرداخت.

آقای متوکل روز سه شنبه اسناد خود را برای نامزدی در انتخابات در کندهار که تا زمان سقوط حکومت طالبان در سال ۲۰۰۱ پایگاه اصلی آن بود تکمیل کرد. ص۴

سهراب دیدار

ولی زموږ روشنفکران د توطیو ښکار شي؟

د نړۍ په هره ټولنه کې د هیواد حال او راتلونکي د جوړولو لپاره زیات مسوولیت د ځوانانو پر اوږو اچول کیږي او همدا وجه ده چې د هرې ټولنې په جوړولو کې د ځوانانو حرکت د یوې نیکمرغی ټولنی د برخلیك په جوړولو کې ستر رول درلودلې شي او دغه طبقه د روشنفکر په نامه یادوي روشنفکر دا مانا چې په ټولو انساني اصولو او ارزښتونو باندې باورې وي او فکر یې په خپل عملي چاپیریال کې پوخوالی ته رسیدلي وي او تل د خپل وطن په ټولو مسایلو کې د جوړولو او ښه کولو په لوري د مثبت نظر او حرکت په لاره کې د مشورو ورکوونکي وي او که چیرې د وخت چارواکي په خپله تاکلې لاره کې له تیرو تنو او خطاوو په لوري روانیږي د همدغه روشنفکر قشر پواسطه پوهول کیږي انتقادونه پرې کوي او سوله امیزه مظاهرو ته سازمان ورکوي او خپلی غوښتنی له چارواکو سره شریکوي.

زموږ په هیواد کې هم تل محصلینو او زموږ ځوانانو د غوښتنو د سرته رسولو لپاره ډیری سوله ییزې مظاهرې کړی او دغه حق نن سبا د ازادی په ورکولو سره ورکړل شوی دی په اساسي قانون کې اجازه ورکړل شوی د مظاهرو قوانین رامنځته شوی دی او د هیوادوالو او چارواکو هیله زموږ له دغه ځوان قشر څخه داده چې د هیواد د ابادی، سراسري سولی او نیکمرغی په رامنځته کولو کې خپلی مثبتی او جوړوونکی نظر یې وړاندې کړي خو باید زموږ دغه روشنفکر قشر هیڅکله د نورو د توطیو او ورانوونکو هدفونو قرباني نشي خو په تیرو مظاهرو کې چې د هیواد په ولایاتو کې شوی ۱۶ کسه مړه او د ۱۲۰ په شاوخوا کې ټپیان شول ولیدل شول چې دښمن زموږ د محصلینو او شاګردانو له پاکو مذهبي احساساتو څخه د ځان په ګټه استفاده وکړه ورانی رامنځته شوې سوځول او خرابونی یې وکړي په مرګ او ژوبلو تمامي شوې دا منو چې موږ مسلمانان یو باید په خپل دین او خپل مذهبي کتاب ننګ وکړو داسې نه چې خپلی ودانی وسوځوو او خپل ځان ته زیانونه واړوو د نیوزویك د مجلې د خبر له مخې چې اوس یې هماغه خبر بیرته رد هم کړ هلته قران شریف ته سپکاوي شوي و او دلته هم په لسونو قران شریفونه او تفسیرونه او نایابه دیني کتابونه چې لیکونکي دوه کاله مخکې په خپل لاس لست کړي وو او په الماریو کې ایښودلی او په تحویلدار پسې قید کړي وو د اور خوراك شول او داسې نور قیمتي سندونه په نورو سوځونو کې له منځه لاړل.

موږ د خپلو محصلینو درانه جوړوونکي فکر ته درناوي لرو خو زموږ محصلین باید د وخت حساسه شرایطو ته چې پرونی دښمن چې اوس بیا نوي له کمین څخه راوتلي په ژوره توګه وپیژني او همدغه دښمن پرون د اسلام په نامه زموږ هستی له نابودی سره مخ کړی وه او اوس یې د یو داسې خبر پواسطه چې رسماً یې تیر وتنه د خبر د خپریدو په هکله ومنله او مخربو عناصرو زموږ ډیرې ابادی له خاورو سره برابری کړي او خپل اهداف یې تر لاسه کړل.

موږ ویلای شو چې په ننګرهار کې راپیل شوی مظاهره د بیلا بیلو اهدافو د لرونکو له خوا یوه داسې توطیه وه چې لا د مخه جوړه شوی وه او چارواکي هم په خبر شوی وو که چیرې د نیوزویك د خپروني خبر هم نه واي بیا هم دغه مظاهره کیدونکي وه.

خو اصلي پوښتنه رامنځته کیدای شي چې ولی دښمن د اوس په نازکو شرایطو کې وکړای شي زموږ روښانه ځوانان د خپلو اهدافو په لاره کې وکاروي. که چیرې دښمن پدې وتوانیږي نو ویلای شو چې دوی په اسانه توګه کولای شي زموږ عوام په خپلو زهرجنو تبلیغاتو سره ښکار کړي. او که پدې کې ورانیو کې بریالی شي نو ویلای شو چې بیا به د پرون په څیر دیکتاتورانه حرکات رامنځته او ورکړل شوی اوسنی ازادی په بیرته بنده شي او همدغه محصلین به بیا لاسونه تکوي خو وخت به ورڅخه تیر شوی وي که څه هم د هغوی د کامیابي چانسونه نه لیدل کیږي.

د یو راغلی لیک ځواب

د اداری ورځپاڼی محترم مدیر مسئول ته

السلام علیك و رحمت الله و برکاته

د ثور په ۱۷ په ۷۳۹ ګڼه کې د (هلمند د مافیا په منګولو کې) تر عنوان لاندې تاسو یو مضمون نشر ته سپارلی و. دغه مضمون د حقایقو نه عاری د شخصي خصومت په بناء لیکل شوی و نو داده موږ به په هری برخی کې چې لیکوال یې دعوه کړی ده د حقایقو په رڼا کې وغږیږو.

۱ - لس ورځې د مه د سنګین په ولسوالی کې چې کوم تریاك نیول شوی وو داد قوماندان رحمت الله له خوا نه بلکې په مخدره چارو کې د وزارت داخله معین جنرال داود له خوا د راستول شوی پلاوی حاجی سید جان په مشری ونیول شول. چې ددې تریاکو اندازه ۶۳۰ کیلو ګرام وه د پورته یاد شوی هیئت په حضور مهر و لاك او د راتلونکی تصمیم لپاره یې د مرکزی حکومت څخه هدایت وغوښتل شو چې سره د نیول شوو تریاکو اندازه ۴۵۰۰ کیلو ګرامو ته ورسیده، او ضمناً د کوکنارو د کښت اړولو په کمپاین کې چې لاتر اوسه دوام لري ۴۱ زره جریبه ځمکه اړول شوی ده چې په دی سره د کوکنارو د کرنی فیصدی د تیر کال په پرتله ۶۰ فیصده ټیټه شوی.

۲ - د معارف د رغاونی په برخه کې چې موږ په کې وروستی ارقام لرو چې دا ارقام د هلمند ولایت مربوطو ولسوالیو څخه لاس ته راغلی په لاندې ډول دی:

په ټول هلمند کې ۲۵۰ ابتدائي متوسط او ثانوي ښوونځي فعال دی چې په هغی کې ۱۴۰ زره شاګردان زده کړه کوي ددې جملی څخه ۱۲ زره ښځینه زده کوونکی دی او د ۴۰۰ او ۲۳۰۰ نارینه استاذانو له خوا تدریس کیږي چې له دې جملی څخه د لشکرګاه عالی دارلمعلمین او لیسه عالی نسوان او لیسه عالی ذکور چې په هر یوې لیسې کې دری زره شاګردان درس وایي د یادولو وړ ده. او د ښځینه استاذانو د تشویق لپاره موږ هری یوې استازی ته یوه نمره ځمکه ورکړی ده او د نمرو په توزیع کې موږ د اولویت حق هغه چاته ورکړی چې سرپناه ونه لری او بی وزله وی چې ددې خبری تائید ۹۲ نمره دی چې موږ همدی وګړو ته توزیع کړی.

۳ - په صحي چارو کې د هیوادوالو د صحي ستونزو د رفع کولو په خاطر موږ په هری یوې ولسوالی کې یو کلینیك جوړ کړی، او ددې نه علاوه یو ایمرجنسی ۵۰ بستریزه شفاخانه په لشکرګا او بله په ګریشك کې جوړه کړی.

۴ - د بیا رغاونی په برخه کې څو میاشتی مخکې موږ د کرزی په نوم په لشکرګاه کې د یو پارك افتتاح وکړه، او بل پارك مو د شهید محمد رسول اخنزاده په نوم پرانست. د ګریش په ښار کې ۴ کیلو متره او په لشکرګاه کې مو ۳۰ کیلو متره پوخ سرك جوړ کړی، او فعلاً په هر یوې ولسوالی کې د دوه کیلو مترو سرك د پخولو کار روان دی چې په د وو میاشتو کې به سرته ورسیږي، او برسیره پر دی د کجکی په بند او فابریکه هم کار روان دی او د مالوچو فابریکه فعاله ده او سږکال ورته ۸ زره تنه پمبه راغلی.

۵ - د اداري اصلاحاتو او د حکومت په چوکاټ کې د نورو قومونو د ونډی په لړ کې هزاره وروڼه چې د هلمند ولایت یو فیصد خلك دی په څو مهمو چوکیو کې ځای لري د بیلګی په توګه د صحت عامی، اسناد او ارتباط، او املاکو رئیسان هزاره وروڼه دی.

۶ - د یادولو وړ ده چې غلام رسول کو چې د مضمون لیکونکی ویلی و چې د هلمند ولایت د چارواکو له خوا په ۱۳۸۲ کال کې وهل شوی و باید ووایو چې هغه یو مغرض شخص دی او شخصي اهداف لري دده دوه وروڼه د طالبانو سره وو چې یو یې د دولتی عسکرو سره په نښته کې وژل شوی او دا خپله په کجکی بند باندې د یوې دسیسی په جوړولو کې په لاس لرلو تورن دی او په همدې تور نیول شوی وه.

په درناوی
د هلمند والی

معلومات انتخابات د انتخاباتو معلومات

د ۱۳۸۴ کال ولسي جرګې او ولایتي شورا ټاکنو لپاره څوك ځان کاندیدولی شي؟

د اساسي قانون، د ټاکنو قانون او د انتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر د دستور العمل له مخې هر افغان چې د کاندیدی له شرایطو سره برابر وي، کولی شي چې د ولسي جرګې او ولایتي شورا ټاکنو لپاره خپل ځان کاندید کړي.

څوك ځان کاندیدولی شي؟

د اساسي قانون له مخې هر هغه څوك چې غواړي د ۱۳۸۴ کال ولسي جرګې او ولایتي شورا ټاکنو لپاره د کاندید په توګه ونومول شي باید:

د افغانستان تابعیت ولري یایې د کاندیدی څخه لس کاله مخکې د افغانستان تابعیت تر لاسه کړی وي.

په بشري ضد جرمونو تورن نه وي.

جنایت یې نه وي کړی یاد محکمې له خوا له مدنی حقوقو محروم شوی نه وي.

د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره لږ تر لږه د ۲۵ کلو وي او د ولایتي شورا ټاکنو لپاره لږ تر لږه د ۱۸ کلو وي.

یو کاندید د وړتیا د شرایطو سربیره باید له لاندې ټکو سره همغاړي وي:

باید یو راجستر شوی رایه اچوونکی وي او خپل د نوم لیکنې کارت وړاندې کړي. غوښتنلیك ورکوونکی کولی شي چې خپل ځانونه په ولایتي دفترونو کې راجستر کړي که چیرې مخکې راجستر شوی نه وي، دغه نوم لیکنه به یوازې د غوښتنلیك ورکوونکو لپاره وي چې خپل ځانونه د کاندیدی لپاره نوموي.

هر هغه ولایت چې غواړي ترې استازیتوب وکړي باید په هماغه ولایت کې د انتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر د نوموني ځانګې ته لاړ شي او پخپله د نوموني بشپړ شوی غوښتنلیك وسپاري.

د لاسلیکونو یو لست وړاندې کړي چې د غوښتنلیك ورکوونکي د کاندیدی ملاتړ وکړي. دغه لاسلیکونو باید له هغې انتخاباتي حوزې او سیدونکو څخه تر لاسه شوي وي چې غوښتنلیك ورکوونکي غواړي هلته سیالي وکړي (د ولسي جرګې ټاکنو لپاره د ۳۰۰ ملاتړي او د ولایتي شورا ټاکنو لپاره د ۲۰۰ ملاتړی).

یوه اندازه پیسې د امانت په توګه کیږدي چې د انتخابیدو په صورت کې به او یا که له ۲٪ څخه زیاتی رایې تر لاسه کړي بیرته ورکړل شي (۱۰۰۰۰ افغانی د ولسي جرګې ټاکنو لپاره او ۴۰۰۰ افغانی د ولایتي شورا ټاکنو لپاره).

د کاندیدانو لپاره د انتخلباتو د تنظیم ګډ دفتر لخوا تعیین شوی کړندوی لاسلیك او رعایت کړي.

د یوې حوزې او یوې ټاکنې د کاندیدی لپاره هر څوك غوښتلك وړاندې کولی شي.

څوك نشي کولی ځان کاندید کړي.

لاندې کسان یوازې هغه وخت ځان کاندیدولی شي چې د کاندیدی لپاره د غوښتنلیك له وړاندې کولو سره سم له خپلو دندو استعفا وکړي.

د ټاکنو مامورین

قاضي القضات، دسترې محکمې غړي او لوی څارنوال

وزیران، والیان، ولسوالان، د وسلوالو ځواکونو مسوولین (ددفاع وزارت، دخله وزارت او د ملي امنیت عمومي ریاست)

قاضیان، څارنوالان، ملکي مامورین، که چیرې دا کسان انتخاب نشول، د انتخاباتو څخه وروسته دوی خپلو دفترونو ته په ۲۰ ورځې کې دننه بیرته ستنیدلی شي.

د کاندیدی په وخت کې هغه کسان چې غیر رسمي وسلوال قوتونه لري یا ددې ډول قوتونو برخه جوړوي د ټاکنو لپاره خان نشي کاندیدولی.

دورهٔ نامزدی کاندیدان الی تاریخ ۲ جوزای سال جاری تمدید شده است.

فرصت تان را برای کاندید شدن در انتخابات ولسی جرگه و شوری های ولایتی ازدست ندهید!

قبل از درخواست نمودن به حیث کاندید درانتخابات شوری های ولایتی، ضرورت به آماده نمودن چه چیز ها دارم؟	قبل از درخواست نمودن به حیث کاندید درانتخابات ولسی جرگه، ضرورت به آماده نمودن چه چیز ها دارم؟
▪ یک لستی را که شامل اسامی، امضاها و شماره های کارت ثبت نام ۲۰۰ تن حامیان تان باشد که به حیث رای دهنده در ولایتی که میخواهید کاندید شوید ثبت نام کرده باشند.	▪ یک لستی را که شامل اسامی، امضاها و شماره های کارت ثبت نام ۳۰۰ تن حامیان تان باشد که به حیث رای دهنده در ولایتی که میخواهید کاندید شوید ثبت نام کرده باشند.
▪ تحویل وجه تضمین ۴۰۰۰ افغانی. اگرشما درحوزه انتخاباتی خود انتخاب شوید یا بیشتر از ۲ فیصد آراء را بدست آورید، این مبلغ دوباره به شما اعاده میگردد.	▪ یک وجه امانت ۱۰۰۰۰ افغانی. اگرشما در حوزهٔ انتخاباتی خود انتخاب شوید یا بیشتر از ۲ فیصد آراء را بدست آورید، این مبلغ دوباره به شما اعاده میگردد.

جهت دریافت معلومات ویا سپردن درخواستی خویش، به دفترمحلی دارالانشای دفترمشترک تنظیم انتخابات در منطقه خود مراجعه نمایید!

نامزدی، فرصت سهم گیری در آینده کشور مان را برایتان مساعد میسازد.

رای دهید و در بازسازی افغانستان سهم بگیرید

متصدی صفحه: زهره

خواندنیهای جالب

زن ها در مقابل الکول 'آسیب پذیرترند'

مطالعات تازه نشان می دهد که زن ها در مقابل عوارض مغزی ناشی از مصرف الکول بسیار آسیب پذیرتر از مردها هستند.

(سی تی اسکن)از مغز بیش از ۱۵۰ داوطلب نشان داد زنانی که به شدت مشروبات الکلی مصرف می کنند، زودتر و بیشتر از مردان دچار آسیب مغزی می شوند.

دانشمندان از قبل مظنون بودند که مردها بیش از زن ها در مقابل مشروبات الکولی مقاوم هستند.

تحقیقات تازه ای که در آلمان انجام شده شواهدی در تایید این موضوع فراهم می کند.

تیم پژوهشگران پوهنتون هایدلبرگ یافته های خود را در نشریه 'اعتیاد به الکول' (Alcoholism) چاپ کرده اند.

نیمی از داوطلبان الکولی بودند و در ابتدا و انتهای دوره مطالعه که برای شش هفته ادامه داشت، به روی کلیه آنها اسکن مغزی انجام شد.کسانی که الکولی بودند در این شش هفته برای معالجه اعتیاد کمک دریافت کردند.مجققان با تحلیل نتایج اسکن مغزی داوطلبان، شواهد آشکاری از آسیب مغزی در میان الکولی ها پیدا کردند.مغز این دسته از داوطلبان به علت ضایعات، کوچکتر از سایرین بود.

ضایعات مغزی

میزان کاهش حجم مغز در مورد زنانی که به شدت الکول مصرف می کردند برابر با مردان الکولی بود، اما در دوره زمانی بسیار کوتاه تری بر آنها عارض شد.

کارل مان، سرپرست این رشته تحقیقات گفت که هرچند مردها عموما بیشتر الکول می نوشند، اما زن ها احتمالا زودتر به آن معتاد شده و زودتر از آن آسیب می بینند.وی گفت سایر اختلالات مربوط به مصرف الکول، مانند ناراحتی قلبی، افسردگی و بیماری جگر، نیز در زنان زودتر از مردان ظاهر شد.پروفیسور مان گفت: 'زنان در مقایسه با مردان معمولا در سنین بالاتر به مصرف الکول روی می آورند، کمتر می نوشند و برخی ممکن است استدلال کنند که زنان کمتر تحت تاثیر الکول قرار می گیرند.' اما شواهد حاکی از پیشرفت سریعتر رویدادهایی است که به وابستگی زن ها به الکول منجر می شود. این شواهد نشان می دهد که آثار منفی اعتیاد به الکول نیز در زن ها زودتر ظاهر می شود.' این نشان می دهد که زن ها ممکن است در برابر مصرف مزمن الکول آسیب پذیرتر باشند.'

وی گفت به همین دلایل است که شناسایی و درمان استفاده سوء از الکول در زن ها حتی واجب تر است.

جورج بوش تفنگ، بایسکل و چوب ماهیگیری هدیه گرفته است

یک تفنگ ۱۴ هزار دالری، بایسکل ۲۷۰۰ دالری و لوازم ماهیگیری به ارزش چند هزار دالر در صدر فهرست هدایایی است که جورج بوش، رییس جمهور امریکا در سال گذشته دریافت کرده است.

اسناد مالی کاخ سفید نشان می دهد هدایای آقای بوش بیشتر کاربرد تفریحی داشته،اما معاون وی دیک چنی بیشتر تحایف هنری مانند تابلو و مجسمه دریافت کرده است که شاید بر روحیه متفاوت این دو سیاستمدار امریکایی دلالت داشته باشد.

آقای چنی برای کرسمس یک ساعت رومیزی به ارزش ۵۹۵ دالر به رییس خود تقدیم کرده که در حال حاضر در دفتر آقای بوش وقت را نشان می دهد. رییس جمهور امریکا نیز به معاون خود گل داده است.

ارزش تمامی هدایای ارسالی برای بوش در سال ۲۰۰۴ بیش از ۲۶ هزار دالر ارزیابی شده است. بسیاری از این تحایف را دوستان وی در ایالت تگزاس فرستاده اند. رییس جمهور امریکا قبلاوالی تگزاس بوده و هنوز یک مزرعه برای گذراندن تعطیلاتش در آنجا دارد.گرانترین هدیه ای که بوش در سال گذشته دریافت کرده، یک تفنگ با لوازم اضافی آن به ارزش ۱۴۱۵۳ دالر است.

دان ایوانز، دوست نزدیک رییس جمهور امریکا و وزیر سابق تجارت این کشور، به وی یک چوب ماهیگیری، پیراهن، سه کلاه و مقداری طعمه مصنوغی برای ماهیگیری به ارزش ۲۰۸ دالر داده است. این تنها یکی از پنج چوب ماهیگیری بود که رییس جمهور امریکا در سال گذشته میلادی هدیه گرفته است که ارزش گرانترین آنها ۹۰۰ دالر (همراه بکس آن) تخمین شده است.

بوش که شیفته بایسکل سواری است، همچنین یک بایسکل کوهستان ۲۷۰۰ دالری و تعدادی کلاه حفاظتی و دستکش بایسکل سواری دریافت کرده است.

رییس جمهور امریکا همچنین یک جفت پاپوش گاوچرانها به ارزش ۲۹۵ دالر و یک کلاه ۴۰۰ دالری از دوستان تگزاسی خود هدیه گرفته است.

طبق قانون، رییس جمهور امریکا و معاونش ملزم هستند هدایایی را که از شهروندان امریکایی می گیرند و ارزش آنها بیش از ۲۸۵ دالر است، اظهار کنند.

آنها اجازه ندارند از خارجیان یا دولتهای خارجی هدیه شخصی بگیرند، ولی این هدایا را به نیابت از امریکا می پذیرند و به خزانه ملی این کشور تحویل می دهند.

پوسته یخی قطب شمال دو نیم شد



به گفته دانشمندان بزرگ ترین پوسته یخی قطب شمال درز برداشته و به دو نیم تقسیم شده است. این رویداد، آب شیرین دریاچه ای را که این پوسته به مثابه سدی از آن حفاظت می کرد آزاد کرده است.

این پوسته یخی که به 'وارد هانت' (Ward Hunt) معروف است در ساحل شمالی جزیره الزمیر، در ناحیه نوناوات کانادا واقع است.

توده عظیم یخ شناور، که برای حداقل سه هزار سال در جای خود ثابت بود اکنون به دو نیمه بزرگ تقسیم شده است.

گروهی از دانشمندان با انتشار مقاله ای در نشریه 'مقالات تحقیقاتی ژئوفیزیکی' (Geophysical Research Letters) از وقوع این پدیده خبر داده و می گویند این تازه ترین نشانه روند جاری و فزاینده تغییرات جوی در نواحی قطب شمال است.

وارویک وینسنت و درک مولر از پوهنتون لاوال در شهر کبک کانادا و مارتین جفریز از پوهنتون فربنکس آلاسکا، امریکا، به شیوه های مختلف از جمله تصویربرداری ماهواره ای و همچنین از نزدیک، سرگرم مطالعه این پوسته بوده اند.

آنها می گویند درز برداشتن پوسته، که از بهار سال ۲۰۰۰ آغاز شد، نتیجه سه دهه فرسایش این توده یخی است.

داکتر جفریز به بی بی سی گفت: 'ما هم اکنون شاهد گسستٌ های بسیار گسترده ای در آن هستیم که به صورت افقی تا کیلومترها در طول پوسته ادامه پیدا می کند. این گسست ها همینطور ده ها متر قطر پوسته را از بالا تا پایین در بر می گیرد. ما هرگز درز هایی مانند این ندیده ایم.'

دانشمندان هشدار می دهند که این جزیره های شناور یخی ممکن است کشتی ها و همچنین سکوهای حفاری در دریای 'بیفورت' را تهدید کند.

نخستین پیامد این پدیده، تلف شدن تقریبا تمامی منبع آب شیرین بزرگ ترین دریاچه مدفون در یک پوسته یخی در نیمکره شمالی زمین است. عمق این منبع آب شیرین در عمیق ترین نقاط به ۴۳ متر می رسید.

از میان رفتن آب شیرین و شور این دریاچه، محیط زیست موجودات ذره بینی و جلبک های ناحیه را دگرگون کرده است.

داکتر جفریز گفت: 'اینها اکوسیستم هایی بسیار نادر و نامتعارف هستند و برای شناختن حیات در دوره های سردتر زمین و همچنین حیات در سایر کرات مورد مطالعه قرار می گیرند.'

وی گفت: 'اگر این اکوسیستم ها را از دست بدهیم، فرصت مطالعه حیات در دوره های پیشین تاریخ زمین و همچنین در سایر کرات منظومه شمسی را از دست داده ایم.'

دانشمندان تحولات پوسته های یخی در قطب شمال و جنوب زمین را همواره زیر نظر دارند.

ناحیه قطب جنوب زمین نیز در دوره های اخیر شاهد تحولات چشمگیری بوده است.

سال گذشته، پوسته یخی معروف به 'لارسن بی' به مساحت ۳۲۵۰ کیلومتر مربع در شبه جزیره قطب جنوب (Antarctic Peninsula) تنها ظرف یک ماه به هزاران قطعه متلاشی شد.

این شبه جزیره یکی از سه ناحیه در جهان است که با سرعت فوق العاده ای گرم می شوند و درجه حرارت آن طی پنجاه سال گذشته ۲،۵ درجه سانتیگراد بالا رفته است.

مولر، وینسنت و جفریز می گویند محاسبات آنها نشان می دهد که تغییرات ماهیتاً مشابهی در ناحیه جزیره الزمیر در جال وقوع است.

یک قرن پیش، سراسر ساحل شمالی این جزیره پوشیده از یک پوسته یکپارچه یخی بود. به گفته دانشمندان با این حال تا سال ۱۹۸۲ حدود ۹۰ درصد این ناحیه یخی از میان رفته بود.

داکتر جفریز گفت: 'مدل های کمپیوتری به شکل کاملا قانع کننده ای نشان می دهد که تغییرات جوی زمین ابتدا در قطب های زمین به خصوص قطب شمال خودنمایی می کند.'

'ملاحظات ما در پوسته یخی وارد هانت با تصویر جامع تری که از تغییرات قطبی داریم همخوانی دارد. به علاوه همه اینها با درک ما از چگونگی واکنش آب و هوای قطب شمال به تغییرات سراسر زمین سازگار است.'

ACKU

جبهه ملی دموکرات...

احزاب لیبرال افغانستان ،آزادیخواهان مردم افغانستان ،ترقی ملی افغانستان ،همبستگی ملی مردم افغانستان ،کارو توسعه افغانستان ،نهضت آزادی و دموکراسی افغانستان ،تفاهم و دموکراسی افغانستان ،همبستگی افغانستان ،رفاه مردم افغانستان ،افغانستان واحد،سعادت مردم افغانستان ،آرمان مردم افغانستان ،نهضت حاکمیت مردم افغانستان اعضای این جبهه میباشند

به گفته وثیق ،رئیس و معاونین این جبهه در اولین جلسه جبهه تعین میشوند .

وی ،در مورد ضرورت ایجاد این جبهه گفت که این جبهه در تحقق اهداف و آزادی های بر حق مردم افغانستان میتواند نقش موثر ایفا نماید .

وثیق میگوید که دولت دست آورد های در قسمت آزادی مطبوعات ،بیان ،تشکیل و فعالیت احزاب سیاسی ،ملکی سازی ملیشه های رسمی داشت اما با آن هم نتوانسته است که به مشکلات مردم نقطه پایان بدهد و جواب قناعت بخش در این مورد ارایه بدارد.

به قول وی افغانستان به حوزه عمده زرع ،تولید و قاچاق مواد مخدر ،اختطاف ،جنایت سازمان یافته ،استبداد و خود کامگی حکام وفساد اداری تبدیل گردیده است

به گفته او ، حراست از استقلال ،حاکمیت ملی و تمامیت ارضی ،مبارزه در راه استقرار صلح ،دموکراسی ،وحدت ملی و عدالت اجتماعی ،حمایت از تطبیق قانون اساسی ،اعلامیه جهانی حقوق بشر و سایر کنوانسیونها و میثاق های بین المللی ،هماهنگی در مبارزات انتخابات پارلمانی به منظور ایجاد پارلمان سالم و ممثل اراده مردم ،مساعی همه جانبه در جهت پایان بخشیدن به مراکز قدر ت های محلی غیر مشروع و پیروی و رعایت اعتقادات اسلامی و احترام به سنت های پسندیده مردم از اهداف مهم این جبهه میباشد .

فوزیه فرهاد استاد انستیتوت اکمال تخصص معلمان و عضو حزب رفاه مردم افغانستان ایجاد این جبهه را ضرور خواند ، وی افزود :((اتحاد و همبستگی میتواند که مارا به یک هدف نهایی برساند.))

این دومین جبهه ای است که از یکجا شدن احزاب به میان می اید ، یازده حزب سیاسی درماه حمل جبهه تفاهم ملی (اپوزیسیون) افغانستان راکه در راس آن محمد یونس قانونی قرار دارد ، تشکیل داده بود .

وثیق ، در مورد اینکه چرا احزاب تحت یک جبهه واحد در کنار هم نمیایندو دو جبهه همزمان در کشور فعالیت مینمایند، گفت :((ما اپوزیسیون نیستیم و هیچ کدام این احزاب قوماندان نبوده اند و کسانی هستند که در حاکمیت شریک نبوده اند ودر این جبهه همه دموکرات ها هستند .))

نورانی مدیر مسوول جریده روزگاران و تحلیل گرسیاسی درمورد جبهه جدید گفت که این جبهه مخالف با جنگسالاران و کسانی است که مرتکب ویرانی در افغانستان شده اند و نمیتوانند که منطقاً یکجا عمل کنند.

قسیم اخگر نیز این دو جبهه را دارنده دو دید گاه مخالف خواند : ((جبهه جدید پافشاری به دموکراسی و ارزشهای مدنی دارد در حالیکه جبهه قبلی دیدگاه های متفاوتی دارند.))

قرار معلومات عبدالغیاث الیاسی رئیس دفتر انسجام احزاب سیاسی وزارت عدلیه ،تا به حال ۶۵ حزب سیاسی رسماً ثبت و راجستر شده و جواز فعالیت اخذ نموده است و ۲۳ حزب دیگر پروسه کاری شان جریان دارد و دو حزب دیگر به زودی جواز فعالیت را اخذ مینمایند .

طالبان و القاعده ...

وی همچنان گفت که مجاهدین عرب در ولایات پکتیا، پکتیکا و خوست وجود دارند که رهبری آنها را ابواللیث الجزایری کوی بعهده دارد و رهبری مجاهدین نورستان و کنر را که تعداد آنها بیشتر از یکصد تن میباشد، را ابو اخلاص بدوش دارد.

به گفته وی، در ولایات کنر و نورستان میان حزب اسلامی، عرب ها و طالبان اتحاد وجود دارد و برای یک هدف علیه دشمن می جنگد.

وی این مطلب را رد نمود که کشور های ایران و چین با طالبان، حزب اسلامی و جنگجویان دیگر مساعدت مینمایند.

هلمند کې یو...

په هلمند کې د نوموړې موسسې یو تن کارکوونکي راز محمد (نظامي) پژواک خبري آژانس ته په ټېلېفوني کرښه څرګنده کړه چې کله داکسان د لښکرګاه له ښار څخه د ناد علي ولسوالی ته د ورځنیوچارو په خاطر تلل موټر یې د ناپېژاندو وسله والو کسانو تر برید لاندې راغي.

دده پر وینا Alternative Income Project موسسه په هلمند کې په زرګونو بزګرانو ته د کار په بدل کې د ورځې درې ډالره ورکوي

ده زیاته کړه چې دوي تر اوسه نه پوهېږي چې برید کوونکي څوک وو

د هلمند ولایت اداري رئیس حاجي محی الدین خان هم له پژواک سره په یو ټېلېفوني تماس کې پېښه تائید کړه او یوازې دومره یې وویل چې په داسې بریدونو کې د هېواد دښمنان لاس لري

که څه هم طالبانو د دې پېښې په اړه څه نه دي ویلي خو هلمند د جنوب لویدیځې حوزې په هغو ولایتونو کې راځي چې شکمن طالبان پر دولتي او غیر دولتي موسسو او سرتېرو بریدونه کوي

نامزدی یکی از ...

آقای متوکل به خبرگزاری آسوشیتد پرس گفت: "من افغان هستم و این حق را دارم که نامزد مستقلی باشم. من بخاطر مردم افغانستان دست به این اقدام زدم."

او افزود: "طالبان هم افغان هستند. عموم مردم باید تصمیم بگیرند که رهبرانشان چه کسانی باشند، طالبان یا افراد دیگر."

وکیل احمد متوکل تنها چهره شناخته شده طالبان است که توسط امریکایی ها بازداشت و سپس آزاد شده است.

او سه هفته تحت بازداشت بود. نخست توسط امریکایی ها و سپس در بازداشت خانگی در کابل. گفتگوی او با بی بی سی نخستین مصاحبه اش با رسانه های غربی از زمان آزادی اش بود. او نسبت به هیچکدام از سیاستهای طالبان موضع پوزش طلبانه نداشت گرچه اذعان کرد که اسامه بن لادن رهبر گروه القاعده و پیروانش رنج و مصیبت آوردند.

آقای متوکل همچنین گفت که با تحصیلات دختران تا جایی که با فرهنگ افغانستان مطابقت داشته باشد موافق است.

شیما رضایی ...

به عقیده حمیده یکی از شاهدان عینی، قتل شیما از قبل طرح ریزی شده بود چرا که مادرش میگفت که هیچ وقت دروازه شان باز نمیبود اما روز که او به قتل رسیده است دروازه باز بوده سگ شان هم جف نزده است و شیشه های همان خانه که شیما در آن به قتل رسیده شکسته است. وی افزود که، از جسد او معلوم میشود که او زیادلت و کوب شده است چرا که پا هایش بسیار خراشیده شده بود . مسوول حوزه دهم امنیتی در مورد علت قتل چیزی نه گفت ولی دو برادر شیما را جهت تحقیق با خود برده اند. شایعه قتل شیما رضایی چندی قبل نیز پخش گردیده بود .

محکومیت چهارتن ...

پولیس به این نتیجه رسید که دو قاتل که خود نیز در آن انفجار در افغانستان جان باختند پاسپورت های جعلی بلژیکی در اختیار داشتند. آن پاسپورت ها از روی اسنادی که در سال های پیش از ماجرا در هالند و فرانسه سرقت شد تهیه شده بود. دنبال کردن رد پای آن دو به کشف شبکه ای از افراطیون اسلامگرا که تحت رهبری طارق معروفي، مستقر در بلژیک، فعالیت می کردند منجر شد.

معروفی در سال ۲۰۰۳ در بروکسل مورد محاکمه قرار گرفت و به شش سال زندان محکوم شد.

احمد شاه مسعود قوماندان ائتلاف شمال افغانستان بود که با طالبان می جنگید.

مرگ مردی که به عنوان "شیر دره پنجشیر" مورد ستایش بود شورشیان را شگفت زده کرد اما آنها مدتی بعد در کنار نیروهای امریکایی به سقوط رژیم طالبان کمک کردند.

روز سه شنبه در پاریس، عادل تبورسکی، ۴۱ ساله، پس از اعتراف به عضویت در یک هسته تروریستی مرتبط با یکی از قاتلان تونسی محکوم به شش سال حبس گردید. وی متهم بود ۳۰هزار فرانک را به شش هزار دلار امریکا بدل کرده و در ماه می سال ۲۰۰۰ در اختیار دحمان عبدالستار که عازم ماموریت انتحاری برای قتل احمد شاه مسعود بود نهاده است. یوسف العونی، ۳۱ ساله و دارای تابعیت فرانسه، به دو سال زندان محکوم شد و عبدالرحمان امرود، یک مرد ۲۷ ساله الجزایری، ۷ سال حبس گردید. یک مرد دیگر ۳۷ ساله به نام محرز آزوز در این ارتباط به پنج سال زندان مجازات شد. خلاف حمام، مظنون پنجم، به خاطر کمک به سازمان دادن یک برنامه آموزش نظامی برای پیکارجویان اسلامگرای مستقر در فرانسه محکوم شد و دو سال حبس گردید. ابراهیم کتا، ۳۸ ساله و عزالدین سایه، ۳۲ ساله تبرئه شدند.

له حاجیانو سره ...

دټرانسپورټ وزارت اړوند داریانا افغان هوایي شرکت سرپرست عبدالغني سلطاني او ددې هوایي شرکت دمالي څانګې مرستیال سید محمد عیسی هغه کسان وو چې دبند او دولت ته د نغدو پیسو تحویلولو سزا ورواورول شوه.

دوي تېر کال دحج دمناسکو دادا کولو په چارو کې دحاجیانو دمالونو په خوړلو او نورو غیر قانوني کارونو تورن پېژندل شوي وو.

خو دمحکمې دحکم له صادرېدلو سره سم عبدالغني سلطاني او سیدمحمد عیسی محکمه په بې انصافی تورنه کړه، دوي دواړو چې ځانونه یې بېګناه بلل خبریالانو ته وویل چې هغه کسان چې قراردادونه یې امضاکړي او جیبونه یې ډک کړي باید محاکمه شي.

دټرانسپورټ وزارت پخواني اداري مرستیال کفتان جاهد عظیمي او دحج او اوقافو وزارت یو مدیر جلال الدین فخري چې نږدې دوه میاشتې وړاندې په ورته تور نیول شوي او تر نظارت لاندې وو همدا موده ورته کافي وګڼل شوه او خوشې شول

د عامه امنیت ددیوان دابتدایه محکمې رئیس مولوي انصارالله مولوي زاده ددې فیصلې د صادرولو پر مهال دټرانسپورټ وزارت داوسني وزیر عنایت الله قاسمي او پخواني وزیر بسم الله بسمل په ګډون داتو کار کوونکو تر تعقیب لاندې راوستلو او محکمې ته دحاضرولو غوښتنه هم وکړه

دنوموړې محکمې لهخوا پر قاسمي له تور پرته، داریانا افغان هوایي شرکت یو شمېر کارکوونکو هم دحامد کرزي په نوم دیو سر خلاصي لیک له لارې په نوموړي یو شمېر تورونه لګولي وو.

خو نوموړي پر ده دڅارنوالی لخوا دلګېدلو تورونو دسپیناوي په خاطر یوه ورځ وړاندې پژواک خبري آژانس سره مرکې ته حاضر نه شو

دمولوي زاده پر وینا دعامه امنیت ددیوان د محکمې دپرېکړې له مخې له قاسمي پرته، دټرانسپورټ پخواني وزیر او دپارلماني ټاکنو دکمیسیون اوسني مشر بسم الله بسمل، داریانا عملیاتي او تخنیکي معاون عبدالرحمن حمیدي، دټرانسپورټ وزارت مشاور او دالمان هیواد تبعه هنس، داریانا شرکت پخواني تجارتي مرستیال محمد عاصم، داریانا پخوانی مالي امر محمد ناصر فیاض، دنوموړي شرکت دخدماتي برخې امره سلطانه علومي چې په همدې موضوع کې په لاس لرلو تورن پېژندل شوي باید تر عدلي تعقیب لاندې راوستل شي او محکمې ته دڅارنوال لخوا دشویو ادعاګانو په اړه ځوابونه ووایي

له دې وړاندې د حج او اوقافو وزارت دوه مرستیالانو او ددې وزارت شپږو نورو هغو مامورینو ته چې دتېر کال دحج د مناسکو دادا کولو په چارو کې په خیانت کولو تورن پېژندل شوي وو، دوري په ۲۲ مه نېټه دهمدې محکمې لهخوا لهیو څخه تر دریو کالو دبند او نغدي جریمې سزا اورول شوې وه

بیت الله شریف ته دتلونکو زیارت کوونکو د شکایتونو پر اساس ولسمشر حامد کرزي یو څلور کسیز پلاوي ته دنده ورکړه تر څو دحاجیانو دستونزو پلټنه وکړي

دولسمشر حامد کرزي دفرمان پر اساس لوېي څارنوالی ته دنده سپارل شوې ده چې دحج او اوقافو او ترانسپورت وزارت هغه مامورین چې تورن پېژندل شوي تر څېړنې او ګروېږنې لاندې ونیسي

تېر کال ۳۰ زره افغانان بیت الله شریف ته دزیارت کولو په خاطر تللي وو چې هر یوه یې ۲ زره امریکایي ډالره دولت ته سپارلي وو په دې رقم کې دحاجیانو ټول لګښتونه شامل وو.

دحج او اوقافو او ترانسپورت وزارتونو ته بیت الله شریف ته دتلونکو زیارت کوونکو حاجیانو دتللو او بېرته راتلو دنده ورسپارل شوې وه ، خو حاجیانو پر دوي تور ولګاوه چې دقرباني په نوم یې تر ې ۱۰۰ ډالره اخیستي او قرباني یې ورته نه ده کړې.

دغه شان حاجیانو داعاشې او اباتې دلاربنود او دروغتیایي اسانتیاوو دنشتوالي له امله هم نیوکې لرلې دیادولو وړده چې دحج دمناسکو په چارو کې له دوي پرته دحج او اوقافو وزارت پخواني وزیر ناصر یار، چې دامهال تر درملنې لاندې دي او ددې وزارت یو بل کارکوونکي او دحج او اوقافو وزارت شپږ تنه قرار دادیان هم په ورته جرم تورن پېژندل شوي دي خو تردې دمه لا محکمې ته نه دي حاضر شوي

امریکایي ځواکونه...

دخوست والي معراج الدین پټان وایي چې دغویي په ۲۷ مه شپه دخوست ولایت داسماعیل خېلو په ولسوالی کې امریکایي ځواکونو په یوه کلي کې دشپې له مخې عملیات کړي دي او په ترڅ کې یې دیوه بوډا په مړینې سربېره دهغه یوزوي او دسیمې ۵ تنه نورکسان هم له ځانه سره بوولي دي.

خو په افغانستان کې دائتلافي ځواکونو ویاندې مېرمن سندي مورهم په خوست کې دیوه کس مړینه ومنله خو ویې ویل چې دا عملیات دوي په سیمه کې له افغانو ځواکونو سره په ګډه کړي دي.

خو دخوست والي وویل چې دبوډا دوژل کېدلو پر مهال له امریکایي ځواکونو سره زمونږ ځواکونه وو مېرمن سندي مور دغویي په ۲۸ مه له پژواک سره په یوه ټېلېفوني تماس کې زیاته کړه : ((دوي ته په دې کور کې د داسې کسانو دموجودیت خبرورکړل شوي و چې دمنفجره موادو او بمونو په جوړولو کې لاس لري خو په کور کې یې له هغې وروسته یو کس چې دودرېدو امر یې ورته وکړ او هغه سرغړونه وکړه له تهدیدي ډزو وروسته په ګولیو وویشت او ویې واژه .))

خو نوموړي ویاندې زیاته کړه چې تردې دمه نه ده په ډاګه چې وژل شوي کس به په بم جوړونه کې لاس درلود که څنګه.

د ښایسته خان ورینداری وویل چې د دې سپین ږیري یو زوي یې هم چې میرویس نومېږي او اوس مهال دملي اردو سرباز هم دی. دباندې ووېښت او له وهلو وروسته یې له ځانه سره بوت.

دا وایي چې دوي له هیچا سره مشکل نه لري او امریکایي ځواکونه دخلکو په شیطانیو داسې کارونه کوي

دخوست ولایت امنیه قوماندان جنرال محمدایوب هم وایي چې باید په داسې تالاشیو کې مونږ ترمخه او ائتلافي ځواکونه دې راپسې وروسته وي ځکه مونږ دسیمې دخلکو په دود او دستور ښه پوهېږو

نوموړي دغویي په ۲۸ مه له پژواک سره په یوه ټېلېفوني تماس کې زیاته کړه ((مونږ دې په عملیاتو کې مخ ته پرېږدي چې په عملیاتو کې ددښمن له لوري څه ستونزه رامنځ ته کېږي نومونږ قرباني ته اماده یو او هغه ستونزه مونږ ګالو .))

دده پر وینا دداسې عملیاتو پایله به هم ډېره ښه وي

دخوست والي زیاته کړه چې ائتلافي ځواکونه باید په داسې عملیاتو کې زمونږ پولیس او ځایي خلک له ځانه سره ملګري کړي

دمعراج الدین پټان پر وینا دداس کارو یو علت دا هم کېدلي شي چې دلته بهرني ځواکونه په هرو ۷ میاشتو کې بدلېږي او تر څو چې یوه ډله په سیمه کې په دودونو پوهېږي نوبله راشي

زندان های...

به اساس اظهارات مذکور عظیم خان که پدر چهار طفل است خانمش را جهت تداوی به پاکستان برده بود و ضمن تداوی وی د ر ایالت پنجاب کار مینمود. فدا محمد خسر بره عظیم خان که در یکی از کوره های خشت پزی منطقه گوجر خان کار مینماید طی یک مکالمه تیلیفونی به آژانس خبری پژواک گفته است که مقامات پاکستانی برایش گفته اند که رهایی وی از طریق سفارت افغانستان امکان پذیر است. وی افزود: ((در زندان گوجر خان اکنون تقریباً ۶۰ تن از افغانان بی گناه که توان پرداخت رشوت را ندارند زندانی اند.)) فدا محمد ادعاء نمود: ((ما در این ناداری تا کنون نه و نیم هزار روپیه را مصرف نموده ایم اما نفر ما رهاء نگردید.)) وی از دولت افغانستان خواست که یا در کشور خود شان زمینه کار را مساعد سازد و یا اینکه خویش را از حال افغانها در ملک های بیگانه مطلع سازد. عبدالخالق فراهی قونسل افغانستان در شهر پشاور پاکستان این موضوع را تائید مینماید که پولیس پاکستان باعث اذیت افغانها میگردد. وی به آژانس خبری پژواک گفته است: ((تعداد زیادی از مهاجرین افغان هر روز به قونسلگری میایند و میگویند که پولیس خویشاوندان آنها را گرفتار نموده است.)) رستم شاه مهمند سفیر پاکستان در کابل در رابطه به زندانیان افغانی در زندان گوجرخان میگوید که اگر واقعاً در زندان مذکور افغانها بدون کدام جرم زندانی باشند پس وظیفه آنهاست تا ایشان را رها کنند. وی گفت: ((من اکنون با آنها تماس گرفته و همین لحظه برای شان فکس میکنم)) موصوف افزود، مهاجرین افغان در هر منطقه پاکستان آزاد گشت و گذار نموده میتوانند و کدام پابندی بالای آنها عاید نیست.

اراده
رهیات تحریر انتشار میابد اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داود
پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
مدیر مسوول: ظهور افغان
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
معاون : سهراب دیدار
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجنیرمحمدجمیل جمیل "امیری" و سبحان الله "داوودزی"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com

ACKU